د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

غزني پوهنتون

د څېړنو او علمي مجلې معاونیت

# غزني پوهنتون کې (د کلیوالي سیمو پرمختګ) تر عنوان لاندې ملي کنفرانس

## د کلیوالي سیمو پرمختګ ملي کنفرانس اغېزې

ویلای شو چې کلیوالي پرمختګ د ملي پرمختګ اساس جوړوي، د نورو هیوادونو شواهد او تجربې دا په ډاګه کوي چې کلیوالي پرمختګ د ملي پرمختګ لپاره یوه لازمي لار ده. نو څکه کلیوالي پرمختګ باید په هېواد کې د ستراتیژیو، تګلارو او پروګرامونو په برخه کې مناسب ځای ومومي. څنګه چې په هیواد کې کلیوالي وګړي له ځینو ستونزو لکه د خدماتو نشتون، بیکاري، بیوزلي، د ژوند ټیټه سطحه، ناوړه اقتصادي وضعیت، مهاجرت او داسې نورو سره مخ دي نو بناءً د دې او ورته نورو ستونزو د له منځه وړلو او کمولو لپاره اړتیا ده، چې په دې برخه کې علمي څېړنې تر سره شي، تر څو د کلیوالي وګړو ستونزي تشخیص شي، حل لاري ورته وموندل شي او د باثباته پرمختګ په لور ګام واخستل شي.

د کلیوالي سیمو د پرمختګ ملي کنفرانس د جوړېدو په پایله کې به کلیوالي ستونزې د څېړنو په ژبه بیان شي او د هغو ستونزو د له منځه وړلو لپاره به اړونده اداراتو لکه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وازرت او د یادو وزارتونو اړونده ولایتي ریاستونو ته به طرحې په لاس کې ورکړل شي او په نتیجه کې به په کلیوالي سیمو کې پرمختګ رامنځته شي، د کلیوالي وګړو تولیدات به زیات او د هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې به رغنده رول ولوبوي. همدارنګه کلیوالي ګرځندوی او کلیوالي صنعت به هم ورســـــره د پام وړ پرمختګ وکړي.

## د کلیوالي سیمو پرمختګ ملي کنفرانس اړتیا او اهمیت

د ۱۳۹۸ کال د احصایې په اساس، د افغانستان ټول نفوس (۳۲۲۲۵۵۶۰) تنه اټکل شوی دی، چې له دې ډلې څخه (۷۷۶۱۷۶۵) تنه په ښارونو، (۲۲۹۶۳۷۲۵) تنه په کلیو او (۱۵۰۰۰۰۰) تنه د کوچیانو په توګه ژوند کوي (د معلوماتو او احصایې ملي اداره، د افغانستان د نفوس اټکل، ۱۳۹۸). ارقامو ته په پام سره، د هېواد ۷۱ سلنه وګړي په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي، چې کرنه، مالداري او لاسي صنایع یې د معیشت ډېره برخه جوړوي (ګرانپایه او جوانمردي، ۱۳۸۷). د هېواد د اقتصاد ډېره برخه په کلیوالي تولیداتو باندي تکیه لري، چې د کروندګرو او مالدارانو محصولات د هېواد د صادراتو اکثریت برخه تشکیلوي. له بده مرغه د تېرو څو لسیزو جنګونو افغانستان د نړۍ په بیوزله هېواد تبدیل کړ او په هېواد کې له شته فرصتونو څخه په غوره توګه استفاده ونه شوه، او کلیوالي وګړي له رنګا رنګ ستونزو لکه بیوزلۍ، کډوالۍ، بیکارۍ، وچکالۍ، طبیعي آفات، د بنسټونو نشتون او داسې نورو ستونزو سره لاس او ګریوان پاتې شوي دي (دهکردي او میانی، ۱۴۰۰؛ Miani et al, 2023). له نېکه مرغه په هېواد کې د بشپړې آزادۍ او امنیت په راتلو سره، هیلې او امیدونه ډېر شوي دي او د هېواد اقتصادي وضعیت د پیاوړتیا په لور چټک ګامونه اخلي. څنګه

چې کلیوالي سیمې د افغانستان د اقتصادي تیر مهمه برخه جوړوي نو داسي امیدونه را ټوکېدلي دي، چې په کلیوالي سیمو کې د نورو ناخوالو د له منځه وړلو تر څنګ به، د غوره سیاستونو د تدوین په واسطه د بیوزلۍ جرړې هم له منځه یوړل شي. ښکاره خبره ده، چې د پرمختیایي هېوادونو اقتصاد په کرنیزو تولیداتو باندې تکیه لري، او کرنیز فعالیتونه هم، غالباً په کلیوالي سیمو کې تر سره کیږي. نو د عنعنوي کرنیزو میتودونو د ښه کولو او له تولیدي منابعو څخه د غوره ګټه اخیستنې لپاره، همدارنګه د لوږې او بیوزلۍ د له منځه وړلو لپاره، د کلتوري او ټولنیز جوړښت د غښتلتیا، له کلیوالي سیمو څخه ښاري سیمو ته د کډوالۍ د مخنیوي، د کلیوالي تولیداتو د زیاتوالي او تلپاتې کلیوالي پرمختیا په لور د ګام اخیستلو لپاره او په ټوله کې د کلیوالي وګړو د ژوند د سطحې د لوړولو لپاره اړینه ده، چې کلیوالي سیمو ته پاملرنه وشي او کلیوالي پرمختیا را منځته شي، نو ځکه وایو چې د پرمختیایي هېوادونو راتلونکې ستونزې باید په کلیو کې حل شي. له همدې امله د کلیوالي پرمختیا څانګه د پورتنیو او ورته نورو ستونزو د له منځه وړلو په برخه کې ځانګړی رول لوبولای شي. په کلیوالي سیمو کې کرنیز پرمختګ تر ډېره بریده په کلیوالي پرمختیا پورې اړه لري. که چیرته کلیوالي سیمو ته توجه وشي نو کرنیز سکتور به ورسره په پښو ودریږي، د کلیوالي سیمو دودیز لاسي صنایع به ورسره وده وکړي او د کډوالۍ مخه به ونیول شي، او له دې سره به په ښارونو کې د نفوس د فشار اغېز ختم شي.

**د کلیوالي سیمو پرمختګ د ملي کنفرانس عمومي موخې**

۱- په کلیوالي سیمو کې د شته فرصتونو پېژندل

۲- اقتصادي، ټولنیزې، فرهنګي، محیطي او نورې ستونزې پېژندل

۳- تشخیص شویو ستونزو ته په پام سره ممکنه او عملي حل لارې لټول

**د کلیوالي سیمو پرمختګ د ملي کنفرانس اصلي عنوان**

د کلیوالي سیمو پرمختګ

**د کلیوالي سیمو پرمختګ د ملي کنفرانس فرعي محورونه**

۱. په کلیوالي پرمختګ باندې د لاسي صنایعو رول
۲. کرنه او کلیوالي پرمختګ
۳. د کلیوالي اقتصاد پرمختګ او خوراکي خوندیتوب
۴. کلیوالي پایداره معیشت
۵. کلیوالي پرمختګ او ګرځندوی
۶. مدیریت او پایداره کلیوالي پرمختګ
۷. نوې تکنالوژۍ او پایداره کلیوالي پرمختګ
۸. په کلیوالي پرمختګ کې د ښځو ونډه
۹. کلیوالي خدمات او په اقتصاد یې اغېزې
۱۰. د کلیوالي پرمختګ په وړاندې شته خنډونه
۱۱. کارآفریني او کلیوالي پایداره پرمختګ

۱۲. کليوالي کوچني کارونه
۱۳. کليوالي بومي پوهه
۱۴. په کليوالي اقتصاد باندې د حاکمو کليوالي فرهنګونو اغېزې
۱۵. په کليوالي اقتصاد باندې د نامناسبو روغتيايي خدماتو اغېزې
۱۶. د کليوالي بيوزلۍ د کمولو او له منځه وړلو لارې چارې
۱۷. د کليوالي بيکارۍ د له منځه وړلو لپاره علمي حل لارې چارې
۱۸. د کرنيز سکتور د تقويت لارې چارې
۱۹. د طبيعي پېښو له امله کليوالي پرمختګ ته ورپېښې ګواښونه او حل لارې
۲۰. د کليوالي پرمختګ غوره مديريت
۲۱. کليوالي اشتغال
۲۲. په کليوالي سيمو کې د صنعت استقرار ته اړتيا
۲۳. د هېواد په اقتصاد باندې د کليوالي اقتصادي ظرفيتونو تأثيرات
۲۴. کليوالي سيمو ته د پانګې د جذب لارې چارې
۲۵. د کليوالي کډوالۍ اغېزې او مخنيوی
۲۶. په کليوالي سيمو کې کرنيز وضعيت ته کتنه
۲۷. کرنيزه بازارموندنه او کليوالي پرمختګ
۲۸. د محيط زيست له امله کليوالي پرمختګ ته ورپېښې ګواښونه او حل لارې
۲۹. په کليوالي پرمختګ کې د متنوع اقتصادي فعاليتونو اړتيا او اهميت
۳۰. په ملي پرمختګ کې د کليوالي پرمختګ ونډه
۳۱. په کليوالي سيمو کې د طبيعي منابعو مديريت
۳۲. د کليوالي پرمختيا لومړيتوبونه
۳۳. په شل کلن اشغال کې کليوالي سيمو ته اوښتي زيانونه
۳۴. د مالدارۍ ودې لارې چارې
۳۵. په کليوالي سيمو کې د نړۍوالو مرستندويه سازمانونو د مرستو موثريت
۳۶. کليوالي اقتصادي او ټولنيزه رفاه
۳۷. د کليوالي کورجوړونې کلکوالی او کليوالي پايداري
۳۸. له لمريزي برېښنا څخه استفاده او په کليوالي ژوند يې اغېزې
۳۹. د کليوالي کورجوړونې د اصلاح او بيارغونې مديريت
۴۰. نوې ټکنالوژۍ او کليوالي پايداره پرمختيا
۴۱. په کليوالي سيمو کې د اساسي محصولاتو (غنم، وريجې او نورو) د توليد په وړاندې ستونزې او حل لارې

۴۲. د کلیوالي اقتصاد په پیاوړتیا کې د ملي او نړیوالو ماډلونو او تجربو څخه د استفادې مؤثریت
۴۳. په کلیوالي اقتصادي پرمختګ کې د تعلیم، روغتیا او بشري ځواک رول او نقش
۴۴. کارآفریني او د کورنیو شغلونو د ایجاد په برخه کې د کورنیو پیاوړي کول

**محترم څېړونکي کولای شي، چې د پورته محورونو په پام کې نیولو سره غزني پوهنتون کې د (کلیوالي سیمو پرمختګ) تر عنوان لاندې ملي کنفرانس ته خپلې څېړنیزې مقالې را واستوي. تر څو د تر سره شویو څېړنو د پایلو په رڼا کې د کلیوالي سیمو ستونزې تشخیص او مناسبې حل لارې ورته ولټول شي. او په دې سره د کلیوالي پرمختګ بهیر په حرکت راوستل شي.**

**په درنښت**

**غزني پوهنتون د علمي څېړنو او مجلې معاونیت**